# مَثَلُ الَّذِي يَذْكُرُ رَبَّهُ وَالَّذِي لاَ يَذْكُرُ رَبَّهُ، مَثَلُ الحَيِّ وَالمَيِّتِ

له ابو موسى رضي الله عنه څخه روایت دی وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «مَثَلُ الَّذِي يَذْكُرُ رَبَّهُ وَالَّذِي لاَ يَذْكُرُ رَبَّهُ، مَثَلُ الحَيِّ وَالمَيِّتِ»، ولفظ مسلم: «مَثَلُ الْبَيْتِ الَّذِي يُذْكَرُ اللهُ فِيهِ، وَالْبَيْتِ الَّذِي لَا يُذْكَرُ اللهُ فِيهِ، مَثَلُ الْحَيِّ وَالْمَيِّتِ». «د هغه چا مثال چې خپل رب یادوي او د هغه چا مثال چې خپل رب نه یادوي د ژوندي او د مړي دی»، او د مسلم الفاظ داسې دي: «د هغه کور مثال چې الله پکې یادېږي او د هغه کور مثال چې الله پکې نه یادېږي د ژوندي او د مړي دی».

[صحيح] [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روایت کړی دی)]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله د یادوونکي او د هغه د نه یادونکي تر منځ توپیر داسې بیان کړی لکه د ژوندي او مړي تر منځ د ګټې رسولو او ښایسته مظهر په لحاظ توپیر، نو د هغه چا مثال چې خپل رب یادوي د هغه ژوندي انسان په څېر دی چې ښکاره یې د ژوند په رڼا او باطن یې د علم په رڼا ښکلی او ګټور وي، او د هغه چا مثال چې الله نه یادوي، د هغه مړي په څېر دی چې ظاهر یې بې ګټې او باطن یې باطل وي او هېڅ ګټه پکې نه وي. همدا ډول هغه کور چې اوسېدونکي یې الله یادوي ژوندی بلل کېږي، که نه نو هغه مړ کور دی ځکه چې اوسېدونکي یې د الله له یادولو نه سست دي؛ که څه هم په حدیث کې د کور یادونه په مړي او ژوندي کور سره شوې ده خو موخه ترې د کور اوسېدونکی دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4177

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee